مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړه سمسور ودان ۲۰۲۲/۱۲/۱۰

# له نړۍ نه نا خبره سک وروڼه

## (طنز)

پرنام سنګ او ګورنام سنګ دوه سک وروڼه وو، چې له دوو نورو ملګرو سره یوځای یې په کلي کې زمکه وپلورله او ښار ته د هوټل جوړولو په نیت لاړل.
دوی د ښار په ګڼي ګوڼي کې یو ستر او عالیشان هوټل جوړ کړ، خو د یوې میاشتي په تېرېدلو سره هیڅوک هم هوټل ته رانغلل.
ولې؟
ځکه چې دوی له کلي نه خپل ۴ غیېدونکي سپي هم راوستي وو، چې د هوټل په دروازه کې یې تړلي وو.
څلورو واړو هوټل خرڅ کړ، فیصله یې وکړه چې یو مستري خانه (ګراج) به جوړوي او موټرې به رغوي. یوه میاشت تېره شوه؛ خو څوک هم د موټر جوړولو او پنچري نیولو له پاره ورنغلل.
ولې؟
ځکه چې دوی دوکان په دریم چت کې جوړ کړی و.
د سوړ بازار له امله یې دا ځل مستري توب هم پرېښوده او یوه ټیکسي یې واخیسته. پوره یوه میاشت یې د ښار په هر سړک موټر ودراوه؛ خو څوک هم موټر ته ورپورته نشو او د دوی ټیکسي و نه چلېدله.
ولې؟
ځکه چې هر ځای به موټر درېده؛ نو همدوی ۴ واړه به پکې سپاره و او سوارلۍ ته پکې هیڅ ځای نه و.
سک یارانو له ډېرې غوسې نه فیصله وکړه چې ټیکسي به سمندر کې غرقوي او ځان به ترې خلاصوي. ټیکسي یې د سمندر غاړې ته بوتله؛ خو نه غرقېدله.
ولې؟
ځکه چې د سمندر په غاړه، څلورو واړو د ټیکسي یوه، یوه خوا نیولې وه او مقابل زور یې واهه، چې له امله یې ټیکسي بیخي له ځایه نه ښورېده.

ژباړه
سمسور ودان


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ